دپلی کیدوړبلنه
ورکول په تړاود

# دکوچنیانو
# وختي یا ابتداییي تشخصیه معاینات







په برلین کی دماشومانو
ساتنې او هوساتیالپاره

که چیرې دبلنلیک داستولونه دیوي معقولي مودي دانقضاً نه بعد دمعاینی تصدیق ونه رسیږی،مرکزی ثانګه دماشومانواوکمکي ځوانانودروغتیاخدمت اداری (KJGD) ته ددی په باره کی معلومات ورکوی، کوم ماشومان معاینه شوي ندی. میندواوپلارونو ته دماشومانواوکمکي ځوانانو د روغتیاخدمت اداره لخوا د کورلیدنه اوداړتیاپه صورت کی مشوره او مرسته پیشکش کیږی.

طرزالعمل داسی تدوین اوترتیب شوی، چه هیڅ طبی معلومات مرکزی ثانګې ته ونه واستول شی. طرزالعمل دبرلین دکوایفوډحفاظت مسول سره موافقه شوی.

ګرانو میندواوپلارونو، ګرانوقانوني سرپرستانو، حیریت اوتعجب ونکړی، که چیرې دیوی ابتدایه یا وخت دمخه تشخیصیه معاینی نه دغفلت په صورت کی تاسی ته اطلاع درکړل شی. هیله ده دا دیوه ستاسی دماشوم د یوه ګټورې معاینې ته د مرسته کوونکې یادونې په توګه پوه شی.

مونږ تاسی اوستاسی ماشوم راتلونکی ته دنیکمرغې هیله کوو!

## نوري پوښتني لری؟

انترنیت
http://rueckmeldewesen-kinderuntersuchungen.charite.de.
www.berlin.de/kindergesundheit
ایمیل ادرس: zentralestelle@charite.de
تیلفون: 450 566 022

Paschtu
Layout: Charité CFM Foto-Grafik-Video, A. Holm | Fotos: W. Peitz | CC17 | Kindervorsorgezentrum | paschtu

## دشاریتی روغتون
## د مرکزی ثانګی دنده څه ده؟

مرکزی ثانګه دسنا لخوا دبلنې یا دعوت اودبیرته راپوروړکولوچاروته ګمارل شوی ده. هغه دنده لری چه په ابتدایی تشخصیه معایناتوکی ګډون تامین کړی. ددی لپاره هغه باید مختلف کوایف دیوبل سره مقایسه کړی:

- مرکزی ثانګه دهغه ماشومانو کوایف چه اصلی اقامت ځای یی برلین ثبت شوی، او باید په معایناتوکی ګډون وکړی، دثبت حکومتی اداری نه لاس ته راوړی.
- د اسکرینګ– لابراتوارلخوا د نوی زیږیدلي ماشومانو کوایف اوهغوي ته ورکول شوی اسکرینګ– ای ډی– نمبرونو سره استول کیږی.
- مرکزی ثانګه دمعایناتوتصدیقونه دبرلین دماشومانواوکمکی ځوانانو دډاکترنه لاس ته راوړی، ډاکترباصلاحیته او مکلف دی چه په ترسره شوی معاینه کی ګډون بی له ځنډه مرکزی ثانګې ته واستوی. که چیرې معاینه دبرلین له ایالت نه بهراجراشی، په دی صورت کی دمعاینه شوی ماشوم موراوپلار باید دمعاینی یوتصدیق مرکزی ثانګې ته واستوی.

مرکزی ثانګه کولای شی له دی کوایفو وګوری، کوم ماشومان تریوې معین ټاکلي نیټې معاینه شوي نه وی.هغه دماشومانو میندواوپلارونو ته بلنه ورکوی، خپل ماشومان دمعایناتولپاره معرفی کړی، اودهمغه معاینې دمحتویات اومقصد په اړه معلومات ورکوی.



## د ماشومانو دمعاینې کتابچې ته دڅه لپاره ضرورت دی؟

په دې کتابچه کې د ابتدایي تشخیصه معاینات نتیجې ثبت او مستند کیږی. هریوې مورته دزیږنتون نه د مرخصی په وخت کې یو داسې دمعاینې کتابچه دهغې ماشوم لپاره ورکول کیږی. دبهرنی هیواد نه د راتګ په صورت کې تاسې دا کتابچه دماشومانو اوکمکی ځوانانو د ډاکترنه ترلاسه کوی.

دماشومانو – معاینې کتابچه باید په غوراوپام سره وساتی اوهرابتدایي تشخصیه معاینې په وخت کې ماشومانو اوکمکی ځوانانو دډاکترته وړاندې شي.

## اسکرینینګ – آی ډی یاپیژندنه څه دی او دڅه لپاره استعمالیږی؟

اسکرینینګ – آی ډي (SC-ID) یوبې نومه یا ناشناسه د عددونو کود دی. دادیوه دولس عدده دعددونولړی دریو امتحانی عددونوسره رامنځته شوی ده. د۲۰۱۰ داپریل ۱ نیټې نه راپدیخوا ټول نوی زیږیدلي ماشومان ته دزیږنتون کلینیک نه دماشومانو – معاینې کتابچه سره هم یواسکرینینګ – آی ډي – دثبت اومستند سوالنامي فورمی (ستیکر دبارکوډ لیبل سره) ورکول کیږی. د اسکرینینګ – آی ډي دنوی زیږیدلی ماشومانو داسکرینینګ اودبلنې اودبیرته راپوروړکولو طرزالعمل لپاره استعمالیږی.

## ولی په معایناتوکې یو بغیردوقفې نه برخه اخستینه مهم دی؟

داځکه چې ددی په ذریعه دتکثراو ودې اختلالات او ناروغي پروخت وپیژندل شي اوپه همدې توګه یې په موقع درملنه وکړای شي. پرته له دې نه بعضې اختلالات او ناروغي بعد دیومعین عمرنه دمشاهدې اوتشخیص وړدی، ددې په اساس دهریوې انفرادی معاینې ټاکلې وخت اومحتویات تنظیم شوی دی. نوځکه د ترډی دمه همیشه په ناخرګنده نتایجوکې هم ډیره مهمه ده، چه ټول معاینات ترسره شي.

په نوي زیږیدلي ماشومانو اوکوچني ماشومانوکې دمنفی ودې اوتحولات وختنی تثبیت یوفیصله کونکی اهمیت او ارزښت لری، ځکه چه لمړني دژوندکلونه دماشوم دیوه روغ تکثراووده کول په اړه فیصله کوی. همدارازهم د ډیرعمرماشومانو لپاره مختني احتیاطي معاینات مهم دی.هغه ماشومان، دبیلګې په توګه چه دخبروکولو، اوریدولو یا دپام نیولو یا تمرکزپه وخت کې ستونزي ولری، کیدای شي په دې ډول ورسره مرسته وشي او له دې سره یوښه پیل په وړکتون او ښوونځی کې ممکن شي.

ددې لپاره چه ماشومان دخطرناکوعفونی ناروغیونه حفاظت شی، دواکسین خوندیتوب یاحفاظت هم منظماً ارزول کیږی.

له دې لپاره: دخپل ماشوم دهوساتیا لپاره حتما دټولوابتدایه یاوخت دمخه تشخصیه پیشکشونو نه ګټه واخلی!

## برلین دکوچنیانوساتنه او دکوچنیانو روغتیا تقویه کوی

هرماشوم ژوندته د یو ښه پیل ضرورت لری. په دې کې روغتیا دهرڅه نه مهمه ده. نوځکه په المان کې یولړې ابتدایي یا وختي تشخیصه معاینات شته، چه دا په دې لړکې مرسته کوی، د ودې اختلالات او ناروغي پروخت وپیژندل شي. دی سره کیدای شي چه احیانا ضروری معاینات پروخت شروع شي.

مونږغواړو ټولو کوچنیانوته په برلین کې دیپل ښه چانسونه ورکړو او غواړوچه هرماشوم ټولومعایناتوکې برخه واخلی.

برلین ددې لپاره یودکوچنیانوحفاظت یاساتنې قانون تصویب کړی. هغه میندې اوپلارونه چه یوه په رضاکارنه ډول ابتدایه یا وختی تشخصیه معاینه (معاینه ۴– معاینه۹) یې نه وی ترسره کړې، بلنه ورکول کیږی چه خپل ماشوم معاینه ته معرفی کړی.